امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



# هفته نامه
# مدیریت حوادث

۱۷ الی ۲۲ عقرب ۱۴۰۴

## شماره یکصدو سی ام

## له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملي اداري او د افغان مهاجرینو د مرستو لپاره د ډنمارک کمېټې تر منځ د (۱,۸۰۱,۰۹۴) ډالرو په ارزښت د کډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د افغان مهاجرینو د مرستو لپاره د ډنمارک کمېټې مالي امر او سرپرست نور ګل نوري، د تمویل او اړیکو امر فریدالله، د پروژې همغږۍ کوونکی سنیل ګرو، د پروژې منیجر زرمحمد احمدزی او د تفاهم نامو د مسؤل محمد نعیم غوثي سره د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۲ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل.
د یادي اداري لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چې خوښ یو چې نن یو داسې تفاهم...

ادامه در صفحه۲

### له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس د هنډیکپ نړیوالې مؤسسې له رئیس سره وکتل



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د هنډیکپ مؤسسې د نوی رئیس وینسنټ رو ویر، د علمیاتي مسؤل ډاکتر عبدالمتین او بشر دوستانه اړیکو ته د لاسرسي متخصص...

ادامه در صفحه ۳

### د پیښو چارو د همغږۍ معین د هرات ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د دې ولایت له والي سره یې وکتل

له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د پیښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د یو تخنیکي، فني او مسلکي پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمي سفر په دوام، د لغمان...

ادامه در صفحه۴

### د کابل ښار په استقلال عالي لېسې او اماني عالي لېسې کې د استادانو او زده‌کوونکو لپاره د زلزلې پر وړاندې د خوندیتوب اقداماتو په اړه روزنیز پروګرام ترسره شو



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د آغاخان بنسټ د استوګنې لپاره د زلزلې پر وړاندې د خوندیتوب اقداماتو روزنیز پروګرام د استقلال عالي لېسې او اماني عالي لېسې د زده‌کوونکو او استادانو لپاره...

ادامه در صفحه ۵

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د بشري مرستو د همغږۍ مؤسیسې تر منځ (۷۱۷۶۵۴) ډالرو په ارزښت دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د افغان مهاجرینو د مرستو لپاره د ډنمارک کمېټې مالي امر او سرپرست نور ګل نوري، د تمویل او اړیکو امر فریدالله، د پروژې همغږۍ کوونکی سنیل ګرو، د پروژې منیجر زرمحمد احمدزی او د تفاهم نامو د مسؤل محمد نعیم غوثي سره د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۲ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل.

د یادي ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چي خوښ یو چي نن یو داسي تفاهم نامه لاسلیک کوو، چي په هغه سره د ۵ ولایتونو ۳۳ ولسوالیو کي خلګو ته اساسي او وقایوي پروژی تطبیق کیږي.

همداراز محترم ترابي صاحب زیاته کړل چي موږ تل هڅه کړې ده او کوو یې، چي خلګو ته د خوراکي او غیر خوراکي توکو پر ځای اساسي او وقایوي پروژې پیل سي او د یادو پرژو د کار پر څټکیتا او شفافیت یې ټینګار وکړ.

د افغان مهاجرینو د مرستو لپاره د ډنمارک کمېټې مالي آمر، نورګل نوري له هرڅه مخکي د دې ادارې د لوی رئیس څخه مننه وکړل چي تل یې هڅه کړې ده چي نړیوالو او داخلي مؤسیساتو ته یې په مرکز او ولایتونو کي د پروژو په برخه کي زمینه برابره کړې ده او تل یې همکاري ورسره کړې ده.

ښاغلي نوري وویل چي په ګډه به د یادو پروژو څخه څارنه کوو تر څو په څټکیتا او شفافیت سره ترسره سې او موږ به تل هڅه کوو چي خلګو ته اساسي او وقایوي کارونه ترسره کړو.

د یادوني وړ ده چي د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د یو میلون، اته سوه، یو زر او څلور نوي (۱،۸۰۱،۰۹۴) امریکایي ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سووه، چې له مخې به یې د ننګرهاد ولایت په مرکز جلال آباد ښار، بهسود، کوز کنړ، دره نور، کامه، بټي کوټ، ګوشته، مهمند دره او لعل پوره ولسوالیو کې، د کنړ ولایت په مرکز اسعد آباد، چپه دره، دره پیچ، برکنړ، ناړی، دانګام، مروره، خاص کنړ او نورګل ولسوالیو کې، د نورستان ولایت په پهکامدیش، وایګل او وامه ولسوالیو کې، د لغمان ولایت په مرکز مهترلام بابا ښار، دولت شاه، علیشنګ، علینګار او قرغه ولسوالیو او همدارنګه د هرات ولایت په مرکز، انجیل، ګذره، ګلران، غوریان، زنده جان او کشک کهنه ولسوالیو کې په لاندې ډول کارونه ترسره سي:

۱. له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د دوه تنو کارکوونکو او د پروژې د کارکوونکو لپاره د سیمې د پوهاوي په موخه څلور دوره ییز کورسونه ترسره کول.

۲. د چاپیریال ساتنې او د پېښو د رامنځته کېدو د وخت په اړه د پوهاوي په موخه د ۵۰۰ سیمه ییزو مشرانو او بزګرانو لپاره د عامه پوهاوي برشرونه، چارټونه، بنرونه فلپونه او نور تشریح کول.

۳. د خطرونو د نقشې جوړولو په برخه کې ۵۰۰ کسانو ته د بېلابېلو وسایلو په واسطه روزنه ورکول.

ادامه صفه ۳

۴. د دوديزې پوهې د زياتوالي په موخه ۵۰۰ تنه بزګرانو او مشرانو ته له درې څخه تر پنځو ورځو پورې د کورسونو ترسره کول.

۵. د ۱۰۴ بيړني پلانونه چمتو کول او د طبيعي پېښو په وړاندې د چمتو والي په موخه د بېلابېلو وسايلو لکه بيلچې، کولنګ، دست کشو، قرطاسيې او د لومړنيو مرستو د بستو برابرول.

۶. د سېلابونو په ځانګړې ډول پېښو ته د ځوابوېنې په موخه د رضاکارانو ۷۶ ټيمونه جوړول او هغوی ته په ياده برخه کې روزنه ورکول.

۷. سيندونو ته نيږدې په ۵۰۰ بېلابېلو نقطو کې د لومړنيو او بيړنيو خبرتياوو سيسټمونو رامنځته کول.

۸. ۱۵۰۰۰ کورنيو ته د طبيعي پېښو په وړاندې د چمتوالي، د يادو پېښو د مديريت او د چاپيريال ساتنې په اړه عامه پوهاوي ورکول.

۹. د ۶۶ کوچنيو وقايوي پروژو جوړول او بيارغول.

۱۰. په ۵۰ بېلابېلو سيمو کې د طبيعي پېښو د خطرونو د کمولو په موخه د ونو او بوټو کينول.

۱۱. د مشارکتي څارنې او ارزونې پلي کول.

۱۲. د پروژې په کچه د پرمختللي ماډل په اړه د زده کړو ورکول او همدارنګه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د همغږۍ په غونډه کې ګډون کول.

## له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس د هنډيکپ نړيوالې مؤسسې له رئيس سره وکتل



له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي د هنډيکپ مؤسسې د نوی رئيس وينسنټ رو وير، د علمياتي مسؤل ډاکټر عبدالمتين او بشر دوستانه اړيکو ته د لاسرسي متخصص، حبيب الرحمن ابراهيمي سره د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۰ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل.

ترابي صاحب د يادې مؤسسې پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ وويل، چې هغه مؤسسې چې زموږ سره تفاهم نامې لاسليک کوي بايد په تفاهم نامه کې ذکر سوې بودجه مصرف کړي تر څو زيانمنو خلکو ته يې ګټه ورسيږي.

همدا راز ترابي صاحب زياته کړه، چې موږ په ټولو ولايتي رياستونو کې د تفاهم نامو د ښه تطبيق او د پروژو د معلوماتو لپاره مديريتونه لرو او هغو ته مو امر کړی دی، چې په تفاهم نامو کې د ذکر سوو پروژو څخه څارنه وکړي.

د هنډيکپ مؤسسې رئيس ښاغلي وينسنت رو وير، د يادې ادارې د لوی رئيس او کاري ټيم څخه يې ځانګړې مننه وکړه او ويې ويل چې دې ادارې تل زموږ سره همکاري کړې ده او موږ به تل هغه خدمات چې زموږ په واک کې وی ورڅخه ونه سپموو.

همدارنګه، ښاغلي رو وير زياته کړه چې د تېرې تفاهم نامې وخت پوره سوی دی او د بيا لپاره به تفاهم نامه تمديد کړو او ځيني نوي بدلون به پکښې راولو.

# د پېښو چارو د همغږۍ معین د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د دې ولایت له والي سره یې وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د یو تخنیکي، فني او مسلکي پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمي سفر په دوام، د لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکندي، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزني، زابل، کندهار، ارزګان، هلمند، نیمروز او د فراه ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاري بهیر له څارنې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۷ نېټه هرات ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین، د هرات ولایت له والي، محترم شیخ نور احمد اسلامجار سره د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم الحاج مولوي محمد موسی اشعري په شتون کې وکتل.

دا ناسته د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د نورو ولایتونو د سفرونو یادونه وکړه او د سفر موخه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د عمومي وضعیت څېړل، د اسلامي امارت د عالي مقام مشرتابه د فرمانونو او لارښوونو د پلي کېدو څارنه، د مالي او اداري چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د پلي کېدو څارنه، د وقایوي پروژو، د بشردوستانه مرستو د وېش، د ماین پاکۍ او د نشراتي چارو څېړنه او د ستونزو او وړاندیزونو اورېدل یاده کړه.

هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره ژمنه ده، چې د خپلو قانوني صلاحیتونو او د دندو په چوکاټ کې به د وقایوي پروژو د پلي کېدو، د زیانمنو ببړنیو اړتیاوو د پوره کولو او د طبیعي پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والي په برخه کې هر اړخیزه همکاري وکړي.

وروسته محترم والي صاحب، د ښه راغلاست ویلو او زیانمنو ته د رسېدنې په برخه کې د یادې ادارې له هڅو څخه د قدردانۍ ترڅنګ د دې ولایت زیانمنتیا ته په اشارې سره وویل چې د هرات خلک د طبیعي پېښو له امله په لوړه کچه زیانمن دي او بشردوستانه مرستو او وقایوي پروژو ته اړتیا لري.

په پای کې، محترم اسلامجار صاحب له دې بهیر څخه د خوښي په څرګندولو سره زیاته کړه، چې د دویمو واحدونو له چارو څخه څارنه او څېړنه د حکومتولۍ یو مهم اصل دی او د هر ډول همکارۍ ژمنه یې وکړه.

وروسته، یاد پلاوي د هرات ولایت له پېښوسره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د یاد ریاست کاري بهیر یې له نږدې وڅاره. په دې لیدنه کې، د پېښو چارو د همغږۍ معین له کارکوونکو سره خبرې وکړې د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او د اسنادونو او فعالیتونو تر ارزونې وروسته یې هغوی ګرندي، پر وخت او اغېزمنو خدمتونو ته وهڅول.

د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوي په دې ریاست کې خپل څارنیز او لارښوونکی بهیر پیل کړ.

## د کابل ښار په استقلال عالي لېسې او اماني عالي لېسې کې د استادانو او زده‌کوونکو لپاره د زلزلې پر وړاندې د خوندیتوب اقداماتو په اړه روزنیز پروګرام ترسره شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د آغاخان بنسټ د استوګنې لپاره د زلزلې پر وړاندې د خوندیتوب اقداماتو روزنیز پروګرام د استقلال عالي لېسې او اماني عالي لېسې د زده‌کوونکو او استادانو لپاره د استقلال ښوونځي په تالار کې د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۲ نېټه جوړ کړ.

په دې پروګرام کې نږدې ۵۰۰ تنه زده‌کوونکو او استادانو ګډون درلود او موخه یې د استادانو او زده‌کوونکو د پوهاوي کچې لوړول او د زلزلې له ګواښونو سره د چمتووالي زیاتول او د زلزلې له رامنځته کیدو مخکې، د زلزلې پر مهال او وروسته د خوندیتوب تدابیرو زده‌کړه ده.

د پروګرام په جریان کې، انجینر جلال‌الدین جمالي، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې استازی، د ښوونځیو استادانو ته یو جامع پرزنټېشن وړاندې کړ تر څو ګډونوال وکولای شي اړین پوهه او مهارتونه تر لاسه کړي چې د زده‌کوونکو تر منځ د پوهاوي د ودې لپاره یې وکاروي.

همدارنګه، محترم نظر محمد جویا، د آغاخان بنسټ د استوګنې لپاره د پېښو څانګې مسؤل، هم په همدې اړه پرزنټېشن وړاندې کړ او د زده‌کوونکو لپاره د تعلیمي ویډیوګانو په اړه یې خبرې وکړې.

په همدې حال کې، د دې ښوونځیو زده‌کوونکو او استادانو د دې پرزنټېشنونو له ترلاسه کولو څخه خوښي څرګنده کړه او په داسې حال کې چې دغه برنامه ډېره اغېزمن وبلل، د داسې نورو پروګرامونو د جوړولو غوښتنه یې هم وکړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګر کې د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۱ نېټه ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې  داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

## د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۶۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۷ نېټه هغو ۱۶۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې, چې سروې یې مخکې د ګډ ټیم له لوري ترسره شوې وه. په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ کیلو بوره او نیم کیلو تور چای ووېشل شو.
د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس, محترم مولوي حمدالله بشیر، له اغېزمنو کورنیو سره د خواخوږۍ تر څرګندولو وروسته، ژمنه وکړه چې په نږدې راتلونکي کې به د همکارو مؤسسو له لارې لا ډېرې مرستې ترسره شي.
همدارنګه له مرستو برخه منو کورنیو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د مسؤلینو له مرستې او همکارۍ مننه او قدرداني وکړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ نظارت بر توزیع کمک‌های غذایی و غیرغذایی برای ۲۴ فامیل متضرر از زلزله اخیر در ولسوالی مارمل را توسط مؤسسات محترم SFL–WFP و IOM انجام داد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با حمایت موسسه SFL که تمویل کننده پروژه آن برنامه جهانی غذا(WFP) میباشد و سازمان بین المللی مهاجرت(IOM) بتاریخ ۱۷ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای 24 خانواده متضرر ناشی از زلزله اخیر در ولسوالی مارمل مساعدت غذایی و غیر غذایی توزیع کرد.
در این روند هر فامیل کمک‌های غذایی توسط SFL-WFP شامل ۱۰۰ کیلوگرم آرد، ۱ کیلوگرم نمک، ۲ کیلوگرم بیسکویت، ۱۰ لیتر روغن، ۱۲,۵ کیلو دال نخود و برای خانواده‌هایی که دارای طفل شیرخوار یا زنان شیرده و حامله بودند یک پاکت پلمپی و یک پاکت سوپر سیریل و کمک‌های غیرغذایی توسط IOM شامل یک باب خیمه، یک بسته آشپزخانه، دو تخته کمپل، یک بسته لباس زمستانی، یک تخته فرش پلاستیکی، یک جاروب و دو چراغ سولری دریافت کردند.
ریاست آمادگی مبارزه با حوادث تأکید نمود که تلاش‌ها برای حمایت از خانواده‌های آسیب‌دیده ادامه خواهد یافت تا نیازهای اولیه آنان برطرف شود.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات برای ۶۲۸۵ خانواده مستحق کمک نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه رازی (RSDO)، که تمویل کننده پروژه آن برنامه جهانی غذا (WFP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات با حمایت موسسه مذکور برای ۶۲۸۵ خانواده مستحق در نواحی دوم، دهم و چهاردهم شهر هرات، بتاریخ ۱۷ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک نقدی توزیع کرد.

در این روند، برای هر فامیل مبلغ ۲۹۰۰ افغانی نقدی، برای مستحقینی که قبلاً سروی گردیده و مستحق مساعدت شناخته شده بودند، توزیع گردید که پروسه توزیع آن مدت شش روز را در برگرفت.

## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستۍ زلزلې له امله زیانمنو کورنیو ته نغدي، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د خوړو نړیوال پروګرام (WFP)، د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)، د ناروې د کډوالو شورا (NRC) او له افغان اېډ موسسې سره د وروستۍ زلزلې له امله زیانمنو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۷ نېټه نغدي، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) له لوري ۲۶۷ زیانمنو کورنیو هرې یوې ته، ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱۲.۵ کیلو دال نخود، ۹.۱ لیتره غوړي، ۱ کیلو مالګه، ۶ کیلو سوپر سریال او ۳ کیلو پلمپې، د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له لوري ۲۶۷ زیانمنو کورنیو هرې یوې ته ۸۵۰۰ افغانۍ نغدې پیسې او یو باب خیمه، د ناروې د کډوالو شورا (NRC) له لوري ۱۴۵ کورنیو هرې یوې ته ۱۱,۲۹۱ افغانۍ او د Afghan aid موسسې له لوري ۱۰۴ کورنیو هرې یوې ته یو باب خیمه او دوه تختې کمپلې او همدارنګه ۱۵ نورو کورنیو هرې یوې ته یو باب خیمه او درې تختې کمپلې ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو د وېش لړۍ د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي احسان الله احسان، د اړونده ادارو استازو او د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې په منظمه او شفافه توګه ترسره شوه.

## د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۷۰ وچکالۍ ځپلو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په لارښوونه، د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۷۰ کورنیو ته چې د ولایت په مرکز کې يې د وچکالۍ له امله کرنيز محصولات له منځه تللي وو، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۷ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د هرې زیانمنې کورنۍ لپاره ۵۰ کیلو اوړه، نیم کیلو چای، نیم من بوره او یو جوړه ژمنۍ جامې ځانګړې شوې وې.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان برای ۳۶۶ خانوده مستحق کمک نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه اکتید، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان با حمایت موسسه مذکور، بتاریخ ۱۷ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۳۶۶ خانواده مستحق در ولسوالی تشکان، در دو کتگوری کمک نقدی توزیع کرد.

در این روند، برای خانم های بی سرپرست، معلول و معیوب در کتگوری اول، به هر یک مبلغ ۱۲۰۷۰ افغانی و برای خانواده های بی بضاعت در کتگوری دوم، به هر یک مبلغ ۱۰۰۶۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع برای ۳۶۶ خانواده مبلغ سه میلیون و هشت‌صد و شصت و دو هزار و هشت‌صد و شصت(۳۸۶۲۸۶۰) افغانی توزیع گردید.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۵۰ اجباري اېستل شویو راستنېدونکو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د رازي موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۷ نېټه ۳۵۰ اجباري راستنېدونکو او مستحقو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې د ۱۶۰ ډالرو معادل ۱۰,۶۴۱افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال درې میلیونه او اووه سوه ځلوروېشت زره او درې سوه پنځوس (۳,۷۲۴,۳۵۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.



## په فراه ولایت کې ناچاوده توکي کشف او خنثی کړل شول




د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC ماین‌پاکۍ مؤسسې له تخنیکي ټیم سره په همکارۍ، د تېرو جګړو پاتې پنځه کړۍ ناچاوده توکي کشف او شنډ کړل.

کشف‌شوي ناچاوده توکي دوه فیره د ۱۰۷ ملي‌متره راکټ مرمۍ، دوه فیره د ۱۰۵ ملي‌متره د توپ مرمۍ او یو فیره د ۸۲ ملي‌متره هاوان مرمۍ وه، چې د فراه ولایت د پشت‌کوه ولسوالۍ په سیمه کې موندل شوي او د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۷ نېټه په خوندي ډول له منځه یوړل شوي.

د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، د سیمې له خلکو د همکارۍ مننه وکړه او له ټولو خلکو یې وغوښتل چې د هر ډول مشکوکو او خطرناکو موادو د لیدلو په صورت کې پرې لاس و نه وهي او موضوع پر وخت له اړوندو ادارو سره شریکه کړي.

## د پېښو چارو د همغږۍ معین د اسلام قلعه په پوله کې د اجباري راستنېدونکو لپاره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په پنډغالي کې د خدمتونو د وړاندې کولو له بهیر څخه څارنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، هرات ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۸ نېټه د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم الحاج مولوي محمد موسی اشعري، په ملتیا په اسلام قلعه پوله کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له پنډغالي څخه لیدنه او څارنه وکړه.

د دې څارنې موخه له ایران څخه راستنېدونکو هېوادوالو ته د خدمتونو وړاندې کولو د وضعیت ارزونه او د اړونده ادارو ترمنځ د راستنېدونکو لپاره د اوبو، خوړو، روغتیایي پاملرنې او لنډمهالي سرپناه د برابرولو په برخه کې د لازمې همغږۍ په هکله د ډاډ ترلاسه کول وه.

د لیدنې پر مهال محترم معین صاحب د پنډغالي موجوده امکانات وارزول او ټینګار یې وکړ چې باید د راستنېدونکو کورنیو بنسټیزې اړتیاوې په بېړه پوره شي. نوموړي مسؤلین وهڅول چې اجباري راستنېدونکو ته په صادقانه او پر وخت خدمتونه وړاندې کړي.

## توزیع کمک‌های غذایی و غیرغذایی برای ۲۲۸ خانوادۀ آسیب‌دیده از زلزله اخیر در ولسوالی شولگره ولایت بلخ




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ در هماهنگی با کمیته موظف با پشتیبانی مؤسسه SFL که تمویل‌کنندۀ پروژه آن برنامه جهانی غذا (WFP) می‌باشد و با حمایت سازمان بین‌المللی مهاجرت (IOM)، مؤسسه UNFPA-AFGA، مؤسسه UNH-CR-CHA، مؤسسه داکتران بدون مرز (MSF) و مؤسسه حمایت از کودکان، بتاریخ ۱۸ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۲۲۸ خانوادۀ آسیب‌دیده از زلزلۀ اخیر در ولسوالی شولگره کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد.
د این روند و در حضور مسئولان محلی، برای هر خانواده از سوی SFL-WFP ۱۰۰ کیلو آرد، ۱ کیلو نمک، ۲ کیلو بسکویت، ۱۰ لیتر روغن، ۱۲.۵ کیلو نخود دال و برای خانواده‌هایی که دارای کودکان شیرخوار، زنان باردار یا شیرده بودند، یک بسته پلمپی و یک بسته سوپر سریل، از سوی IOM، برای خانواده‌های شامل کتگوری اول یک باب خیمه و برای کتگوری دوم کیت سرپناه، از جانب UNFPA-AFGA، برای هر خانواده یک تخته کمپل و یک تخته ترپال،
از سوی مؤسسه حمایت از کودکان، برای هر خانواده یک کیت آشپزخانه شامل دیگ بخار، سطل، چای‌جوش و سایر لوازم ضروری آشپزی، از جانب UNHCR-CHA، برای ۱۱۵ خانواده دو بوشکه آب، دو تخته ترپال، سه تخته کمپل، دو عدد چراغ سولری و یک عدد دبه گاز و از سوی مؤسسه MSF برای ۸۲ خانواده سه تخته کمپل، چهار تخته موکت فرش، دو تخته ترپال، پنج عدد صابون، یک کیلو پودر لباس‌شویی، دو عدد آفتابه، یک عدد سطل، دو بوشکۀ ۱۰ لیتری آب و یک بسته آب معدنی توزیع گردید.

## د سمنگان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د وروستۍ زلزلې له امله ۸۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د سمنگان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د خوړو نړیوال پروگرام (WFP) په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۸ نېټه د ایبک ښار په بېلابېلو سیمو کې د وروستۍ زلزلې له امله ۸۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱۰ لیتره غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال، ۳ کیلو سوپر سریال، ۱.۵ کیلو پلمپي او یو کیلو مالگه ووېشل شوه.



## کشف و خنثی‌سازی مهمات منفجرناشده در ولایت لوگر




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر با همکاری تیم تخنیکی مؤسسه بین‌المللی ماین‌پاکی هلوترست (HALO Trust)، بتاریخ ۱۸ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق موفق به کشف و خنثی‌سازی چهار عدد مهمات منفجرناشده باقی‌مانده از جنگ‌های گذشته در ساحه دشت آبچگان، مرکز پل‌علم گردید.

قابل یادآوری است که مهمات کشف‌شده از جنگ‌های گذشته باقی مانده و قابل استفاده نبود، اما برای باشندگان محل خطر و تهدید جدی محسوب می‌شد. این مهمات به‌گونهٔ مصئون از بین برده شد که در آن ۲۵۰ گرام مواد انفجاری، سه کاره آتش‌بازی (پتاقی) و دو متر فلیته ثانیه‌سوز به‌کار رفته بود.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱,۲۹۲ بېوزله کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې او د ASIO مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت په بغلان مرکزي ولسوالۍ کې ۱,۲۹۲ بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۸ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته دوه بورۍ ۲۵ کیلویي اوړه، ۴.۵۵ لیتره غوړي، ۶.۲۵ کیلو دال، نیم کیلو مالګه، ۳ کیلو سوپر سریال او ۱.۵ کیلو پلمپي ووېشل شول.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۱۹۷ وچکالۍ ځپلو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هنګرې د نړیوالو مرستو موسسې (HIA) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي همکارۍ، په غورماچ ولسوالۍ کې ۲۱۹۷ وچکالۍ ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۸ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړي، ۶.۲۵ کیلو نخود او نیم کیلو مالګه ووېشل شوه، سربېره پر دې ۸۰۰ کورنیو ته چې تر دوو کلونو کم ماشومان یې درلود هرې کورنۍ ته ۱.۵ کیلو پلمپي او ۱۶۶۲ کورنیو ته چې حامله مېرمنې یا شېدې خوره ماشومان یې درلودل ۳ کیلو سوپر سریال ووېشل شول.

## د میدان وردګ ولایت په مرکز میدان ښار کې یو عدد BM1 مرمۍ کشف او خنثی کړل شوه




د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې د ایریا ماین پاکۍ مؤسسې تخنیکي ټیم، د میدان وردګ – بامیان پر لویه لار د مرکز میدان ښار په چارکي سیمه کې د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۸ نېټه یو عدد BM1 مرمۍ چې یو متر اوږدوالی لري، د سړک په څنډه کې کشف او په خوندي توګه له منځه یوووړه.

دا مرمۍ په داسې حال کې کشف شوه، چې د میدان وردګ ولایت له مرکز میدان ښار څخه د جلریز ولسوالۍ تر مرکز پورې د دوهم لین سړک د ترمیم او بیا رغونې چارې د ترسره کېدو په حال کې دي او دا مرمۍ په همدې سیمه کې وموندل شوه.

د موندل شوې مرمۍ ځای ته د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوي فیض الله جلالي او ورسره مل تخنیکی پلاوي سفر وکړ او له نږدې څخه د سړک جوړولو شرکت، او ایریا ماین پاکۍ مؤسسې له مسؤلینو سره د همغږۍ لیدنه وکړه او ښاغلي جلالي د هر اړخیزه همکاریو ډاډ ورکړ.

همدا راز د ناچاوده توکو د خطرونو د کمولې په موخه د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ایریا ماین مؤسسې په همکارۍ د ولایت په کچه ګرځنده تخنیکي ټیمونه موظف کړي، تر څو په پاتې سیمو کې د چاودېدونکو توکو له امله د احتمالي پېښو رامنځته کېدو خطرونو کم کړي او د یاد ولایت له اوسېدونکو څخه غوښتنه کوي، چې د ناچاوده یا مشکوکو توکو د لیدو په صورت کې له مسؤلینو سره اړیکه ونیسی، تر څو د خنثی کولو په برخه کې اړین اقدامات تر سره شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۹۲ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غیرغذایی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه RRAA، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با همکاری مالی این مؤسسه، بتاریخ ۱۸ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۹۲ خانواده آسیب‌دیده از سیلاب در ولسوالی مهمندره، بسته‌های بهداشتی توزیع کرد.




در این روند، برای هر خانواده در حضور مسئولین، یک بسته بزرگ شامل ۱۱ قالب صابون، ۶ عدد روجایی، یک بکس، ۷ قالب صابون لباس‌شویی، یک بشکه پلاستیکی ۲۰ لیتری، یک سطل پلاستیکی ۲۰ لیتری، یک تملونک، ۴ قلم مواد بهداشتی برای زنان، ۴ کارتن تکه به اندازه دو متر مربع، ۷ عدد برس دندان، ۲ عدد خمیر دندان، ۵ عدد دست‌پاک، ۲ بوتل شامپو، یک عدد پاتک اطفال و یک پاکت کلورین برای تصفیه آب آشامیدنی، توزیع شد. همچنین، بسته کوچک شامل ۵ قالب صابون دیتول، ۲ قطعه تکه، ۳ عدد برس دندان، ۱ عدد کریم دندان، ۱ قلم مواد بهداشتی برای زنان، ۱ عدد دست‌پاک، ۲ بوتل شامپو، ۱ عدد چراغ سولری، ۶ عدد روجایی و ۱ بکس نیز برای خانواده‌ها توزیع گردید.

## د فراه ولایت په پشت رود ولسوالۍ کې چاودېدونکي توکي کشف او په خوندي توګه له منځه یوړل شول




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د DRC ماین پاکۍ مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې د تخنیکي ټیم د همغږۍ له مخې، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۹ نېټه د دې ولاست د دشت رود ولسوالۍ په ساج کلي کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوي چاودېدونکي توکي کشف او په خوندي توګه خنثی کړل.

د دې عملیاتو په ترڅ کې، یو فیر د هاوان ۸۲ ملي مترۍ مرمۍ او OG7 ډوله ۴۰ ملي مترۍ د راکټ مرمۍ، چې د سیمه ییزو اوسېدونکو ژوند یې له خطر سره مخ کړی وو، کشف او په خوندي توګه له منځه یوړلې.

د یادونې وړ ده، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له لوري سیمه ییزو وګړو ته وویل شول چې د هر ډول مشکوک او چاودېدونکي توکي د لیدو په صورت کې دې له اړونو مسؤلینو سره اړیکه ونیول شي ترڅو یاد توکي په وخت له منځه یوړل شي.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۶ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




له پېښو د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د ARCIO موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۹ نېټه د دې ولایت په سرخ رود او خوګیاڼ ولسوالیو او جلال آباد ښار کې ۲۶ سیلاب ځپلو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسوولینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته د دویم ځل لپاره ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال او ۱ کیلو مالګه ووېشل شوه.

## برای ۲۴۳ خانواده آسیب‌دیده از زلزله اخیر در ولایت سمنگان کمک‌های غذایی، غیر غذایی و نقدی توزیع گردید




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان با حمایت مالی برنامه جهانی غذ (WFP)، مؤسسهٔ BDN و سازمان بین‌المللی مهاجرت (IOM)، برای ۲۴۳ خانواده متضرر از زلزله اخیر در ولسوالی فیروز نخچیر آن ولایت پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۹ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی، غیر غذایی و نقدی توزیع نمود.

در این روند، برای هر خانواده در حضور مسئولان، از سوی برنامه جهانی غذا برای هر خانواده ۱۰۰ کیلو آرد، ۱۰ لیتر روغن، ۱۲.۵ کیلو دال، ۳ کیلو سوپر سریال، ۱.۵ کیلو پلمپی و ۱ کیلو نمک، از سوی مؤسسهٔ BDN برای هر خانواده، یک تخته کمپل و یک تخته ترپال، و از سوی سازمان بین‌المللی مهاجرت به هر فامیل مبلغ ۸۵۰۰ افغانی توزیع گردید. در مجموع برای این تعداد خانواده، مبلغ دو میلیون و شصت‌وپنج هزار و پنج‌صد (۲,۰۶۵,۵۰۰) افغانی به صورت نقدی اختصاص یافته بود.

## د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲,۲۱۶ مستحقو کورنیو ته د دوه یم پړاو نغدي پیسو د مرستو لړۍ پیل کړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د (JCSSO) مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۹ نېټه د دې ولایت په دره، حصه اول او بازارک ولسوالیو کې ۲۲۱۶ مستحقو کورنیو ته د نغدي مرستو لړۍ پیل کړه.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، په بازارک سیمه کې د دوه یم پړاو مرستو تر سرلیک لاندې د دې پړاو ۷۴۰ کورنیو هرې یوې ته ۲،۷۶۳ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره دوه میلیونه او څلورڅلویښت زره او شپږ سوه او شل (۲،۰۴۴،۶۲۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو دا لړۍ په بازارک کې تطبیق شوه، او په دره او حصه اول ولسوالیو کې به ټولو ۲۲۱۶ کورنیو ته په څلورو دورو کې په راتلونکو ورځو کې دوام ولري.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندهار برای ۲۷ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندهار برای ۲۷ خانواده آسیب‌دیده شامل مرکز و ولسوالی های مختلف آن ولایت، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۹ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.

در این روند، در حضور مسئولان، برای هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۲۵ کیلو برنج، ۵ کیلو شکر، نیم کیلو چای سیاه، دو جوره چپل و برای یکی از خانواده‌ها دو تخته کمپل توزیع گردید.

## کشف و خنثی‌سازی یک فیر مرمی توپ در ولسوالی سیاه‌گرد ولایت پروان



به اساس هماهنگی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان با تیم ۰۲ HT QR EORE مؤسسهٔ بین‌المللی ماین پاکی هیلو تراست (HALO Trust)، در جریان بررسی‌های وسایل فلزی در تپهٔ دارالمعلمین ولسوالی سیاه‌گرد، بتاریخ ۲۱ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق یک فیر مرمی توپ ۱۵۲ میلی‌متری کشف و به‌گونهٔ مصئون خنثی گردید.

این مواد انفجاری، باشندگان محل را در معرض خطر جدی قرار داده بود که با از بین بردن آن، مردم منطقه از خطر احتمالی مصئون شدند.

# د کندهار ولایت په تخته پل ولسوالۍ کې له پاکستان څخه د اجباري اېستل شویو راستنېدونکو لپاره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري اړوند د پنډغالي جوړولو کار ۹۰ سلنه بشپړ شوی دی



د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله د حکم پر بنسټ، چې له مخې یې د اجباري اېستل شویو راستنېدونکو چارو ته د رسېدنې کمېسیون غړو ټولو وزیرانو ته لارښوونه شوې وه، چې په اړوندو برخو کې د هغوی لپاره اغېزمن خدمتونه وړاندې کړي، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري ته دنده سپارل شوې، چې د راستنېدونکو د لنډمهاله هستوګنې لپاره اړینې خیمې برابرې او نصب کړي. دې اداري د کندهار ولایت په تخته پل ولسوالۍ کې له پاکستان څخه په اجباري توګه د را اېستل شویو راستنېدونکو د لنډ مهاله هستوګنې د پنډغالي جوړولو کار پیل کړی دی چې تر اوسه یې د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۹ نېټه کار ۹۰ سلنه بشپړ شوی دی.

د دې پنډغالي کار له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په لارښوونه، د ټاکل شوي ټیم له لوري د اداري د داخلي پلټنې آمر، محترم قاري محمد یاسین په مشرۍ پیل شوی دی. په دې پنډغالي کې ۹۰ باب خیمې او یو لوی ریب‌هال (ګدام) شامل دي، چې د تشناب، حمام، د کثافاتو ځای، د ټولو کوڅو جغل‌اچونې، عمومي سرک، د څښاک اوبو او د ټولو خیمو او اوسیدونکو لپاره د برېښنا آسانتیاوې په کې برابرې شوې دي.

د یادونې وړ ده، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د راستنېدونکو د لنډمهاله هستوګنې په موخه، د ننګرهار ولایت په تورخم فرضي کرښه، د نیمروز ولایت په پل ابریشم او د هرات په اسلام‌قلعه کې هم ورته پنډغالي له ټولو اساسي امکاناتو سره جوړ کړي دي.

# د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۱۰ زلزله ځپلو کورنیو ته نغدې مرستې وویشلې




د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۱۹ نېټه د یاد ولایت په دره نور ولسوالۍ کې ۳۱۰ زلزله ځپلو کورنیو ته د ژمنیو توکو برابرولو لپاره نغدې مرستې ووېشلې.
د مرستو په دې ویش کې د مسولینو په شتون کې هرې مستحقې کورنۍ ته ۱۳,۱۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال څلور میلیونه او یو شپېته زره (۴,۰۶۱,۰۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.
مرسته اخیستونکو کورنیو د یادو مرستو له ترلاسه کولو وروسته خوښي څرګنده کړه او له اړوندو ادارو یې مننه وکړه چې غږ یې په وخت واورېدل شو او رسېدنه ورته وشوه

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک برای ۱۰۰ تن کارگر محلی در بدل کار کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک برای ۱۰۰ تن کارگر محلی که به‌مدت ۱۰ روز در بخش ترمیم و بازسازی سرک عمومی و دیوار استنادی تخریب‌شده در اثر سیلاب‌های اخیر کار کرده بودند، بتاریخ ۲۰ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.

در این روند، برای هر کارگر ۵۰ کیلو آرد، ۵۰ کیلو شکر، ۱ کیلو چای سیاه، دو جلد بروشر از سوی سازمان یونیسف و ۲۸ بسته کلورین از همین سازمان توزیع گردید.

در هنگام توزیع، رئیس ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک، مولوی فیض‌الله جلالی، گفت که ما همواره تلاش می‌کنیم در چنین پروژه‌ها، باشندگان محل را برای تقویت

## د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۰۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، هغو ۵۰۰ کورنیو ته چې د یاد ولایت د کوه زور ولسوالۍ په لرې پرتو سیمو کې د سختې وچکالۍ له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۰ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو غنم او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې.

د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو وویل، چې د دې پروګرام له ترسره کولو څخه یې موخه د وچکالۍ د منفي اغېزو کمول او په لرې پرتو سیمو کې د زیانمنو کورنیو ملاتړ کول وو.

## په سمنګان ولایت کې د وروستۍ زلزلې له امله ۴۰۷ زیانمنو کورنیو ته نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشل شوې



د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همکارو بنسټونو په همکارۍ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۰ نېټه د یاد ولایت په خُلم ولسوالۍ کې د وروستۍ زلزلې له امله ۴۰۷ زیانمنو کورنیو ته نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) هرې کورنۍ ته، ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱۰ لیتره غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال، ۳ کیلو سوپر سریال، ۱.۵ کیلو پلمپي او ۱ کیلو مالګه ووېشله.

همدا راز، د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له لوري هرې کورنۍ ته ۸۵۰۰ افغانۍ نغدې مرستې او د KAF محترمې موسسې هم هرې کورنۍ ته یوه تخته کمپله او یو تخته ترپال ووېشل شو.

د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي احسان الله احسان وویل چې د دې پروګرام موخه زلزله ځپلو بېړنۍ رسېدنه او د ژمي په فصل کې د هغوی د ستونزو کمول دي.

# کار ساخت چهار پروژه وقایوی در ولسوالی قادس ولایت بادغیس آغاز شد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس با همکاری سازمان بین‌المللی مهاجرت (IOM)، بتاریخ ۲۰ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کار ساخت چهار پروژۀ وقایوی را در ولسوالی قادس آن ولایت آغاز کرد.

در مراسم افتتاح این پروژه‌ها، محترم الحاج مولوی باریداد صابر، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس، همراه با ولسوال صاحب ولسوالی قادس و شماری از محاسن‌سفیدان محل حضور یافته و کار ساخت پروژه‌های یادشده را رسماً افتتاح نمودند.

پروژه‌های وقایوی متذکره شامل احداث دیوارهای استنادی در مناطق عمربیک‌ها و زادصالح و ساخت یک پلچک در منطقه عمربیک ها می‌باشد. در منطقه عمربیک‌ها دو دیوار استنادی، یکی به طول ۳۱۷ و ارتفاع ۳.۵ ودیگری به طول۳۵۰ متر و ارتفاع ۳.۸ متر و همچنان در منطقه زادصالح یک دیوار استنادی دیگر به طول ۳۳۰ متر و ارتفاع ۲ متر و علاوه بر این، در منطقه عمربیک‌ها یک پلچک به طول ۱۱ متر، عرض ۵.۵ متر و ارتفاع ۳ متر ساخته خواهد شد.

هدف از اجرای این پروژه‌ها کاهش خسارات ناشی از سیلاب‌ها، محافظت از ساحات مسکونی و اراضی زراعتی و تأمین امنیت جانی و مالی مردم محل عنوان شده است.

محترم الحاج مولوی باریداد صابر، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ضمن قدردانی از همکاری سازمان بین‌المللی مهاجرت (IOM) گفت که تطبیق چنین پروژه‌های وقایوی نقش مهمی در جلوگیری از خسارات طبیعی و بهبود وضعیت زیربناهای محلی در آینده دارد.

# د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۳۶ کورنیو ته د حفظ الصحې کېټونه ووېشل




د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په نورګرام ولسوالۍ کې ۲۳۶ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۰ نېټه د حفظ الصحې کېټونه ووېشل.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ د مسؤلینو په شتون کې، د حفظ الصحې کېټ ووېشل شو، چې ۷ کلچې د جامو منځلو صابون، ۱۴ کلچې د لاس منځلو صابون، ۱ عدد صابون دانۍ، ۱ بوتل شامپو ۱۰۰۰ میلي لیتره، ۱ عدد د غاښونو کریم، ۶ عدده د غاښونو برسونه، ۲۴ د ماشومانو پوښکونه، د اوبو د تصفیې لپاره ۱۰ عدده کلورین ټابلیټونه او ۲ عدده د کلورین کارولو د لارښوونې بروشرونه په کې شامل وو.

## د کندهار ولایت په ډنډ ولسوالۍ کې یو اوراګان راکټ کشف او په خوندي توګه له منځه یوړل شو



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هیلوترسټ نړیوالې ماین پاکۍ مؤسسې د DBB-0677 تخنیکي ټیم په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۰ نېټه د دې ولایت د ډنډ ولسوالۍ په زوړ ماشوم کلي کې له تېرو جګړو څخه یو پاتې شوی اوراګان راکټ کشف او په خوندي توګه خنثی کړ.

یاد چاودېدونکی توکی، چې د سیمې د اوسېدونکو ژوند یې له احتمالي خطر سره مخ کړی وو، په خوندي توګه له منځه یوړل شو، چې په له منځه تلو سره یې سیمه ییز وګړي له احتمالي خطر څخه وژغورل شول.

## ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۹۹ اجباري راستنېدونکو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په مرکز ترینکوټ کې، د پاکستان او ایران هېوادونو څخه په اجباري توګه راستنو شویو ۴۹۹ کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۱ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د یادو مرستو د ترلاسه کولو له امله خوښي څرګنده کړه او د یاد ریاست له مسؤلینو څخه یې مننه وکړه.

## برای خانواده‌های آسیب دیده از زلزله اخیر در ولایت سمنگان مساعدت نقدی، خوراکی و غیر خوراکی توزیع شد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان با همکاری نهادهای همکار، برای خانواده‌های آسیب‌دیده از زلزله اخیر در ولسوالی حضرت سلطان آن ولایت، بتاریخ ۲۰ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی، مواد غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.



در این روند، برنامهٔ جهانی غذا (WFP) برای ۱۲۳ خانواده، هر یک مقدار ۱۰۰ کیلوگرام آرد، ۱۰ لیتر روغن، ۱۲.۵ کیلوگرام دال، ۳ کیلوگرام سوپر سریال، ۱.۵ کیلوگرام پلمپی و ۱ کیلوگرام نمک، همچنین، سازمان بین‌المللیِ مهاجرت (IOM) برای ۱۸۳ خانواده، به هر یک مبلغ ۸۵۰۰ افغانی نقداً، ۶۰ باب خیمه و ۱۲۳ بستهٔ سرپناه اضطراری و به همین ترتیب، مؤسسهٔ افگا برای ۲۹۸ خانواده، به هر یک، یک تخته ترپال و یک تخته کمپل توزیع نمودند.

قابل ذکر است که این کمک‌ها به منظور رسیدگی فوری به آسیب دیدگان و کاهش مشکلات انسانی ناشی از زلزله اخیر انجام شده است.

## د بلخ ولایت په مارمل ولسوالۍ کې د وروستۍ زلزلې له امله ۲۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشل شوې



د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ریاست د PGGO موسسې په همکارۍ، د یاد ولایت په مارمل ولسوالۍ کې د وروستۍ زلزلې له امله ۲۴ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۱ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې ۱۰ کیلو وریجې، یو پاکټ ۵ کیلویي مکروني، ۶ کلچې د جامو منځلو صابون، یو درجن اورلګید، یوه بسته آیوډین داره مالګه، نیم من لوبیا، نیم کیلو وچ چای، ۵ لیټره غوړي او یوه تخته دوه کسیزه کمپله ووېشل شوه.

## د لغمان ولایت په مرکز مهترلام بابا ښار کې یوه د توپ مرمۍ کشف او له منځه یوړل شوه

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د هیلوترسټ ماین پاکۍ نړیوالې مؤسسې د تخنیکي ټیم د همغږۍ له مخې، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۱ نېټه د دې ولایت د مهترلام بابا ښار په پنځ پای کلي کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوې یوه د توپ ۱۲۲ ملي متری مرمۍ کشف او په خوندي توګه خنثی کړل شوه.

یاد چاودېدونکي توکي د سیمو د خلکو ځان او مال له احتمالي خطر سره مخ کړی وو، چې په له منځه تللو سره یې دا وګړي له یادو خطرونو څخه خوندي شول.

د یادونې وړ ده، چې د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست یادې مؤسسې د دې ډول کړنو ستاینه وکړه او د سیمه ییزو وګړو د خوندیتوب په برخه کې یې د لا زیاتو همکاریو ژمنه وکړه.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۴۸ خانواده آسیب‌دیده از زلزله کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ، با حمایت مالی سازمان‌های IOM، SFL-WFP، UNFPA-BDN و مؤسسه حمایت از کودکان، برای ۴۸ خانواده آسیب‌دیده از زلزله اخیر در ولسوالی البرز ولایت بلخ (در ولسوالی‌های بلوچها، بورمه، چینی خال، چقناق، حیدرعلی، کلتار افغانیه، کورچه، ناراخیل، قمشلی، قدق بیل، قلی خیل، سینگ رحیم بای و شورچه) پس از انجام بررسی، بتاریخ ۲۱ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.



در این روند، برای هر خانواده در حضور مسئولان محلی، از سوی مؤسسه SFL-WFP، ۱۰۰ کیلو آرد، ۱۰ کیلو روغن، ۱۲.۵ کیلو نخود، ۲ کیلو بیسکویت، ۱ کیلو نمک و برای خانواده‌هایی که در آن‌ها نوزادان شیرده و مادران باردار وجود داشت، ۳۰ پاکت پلمپی و ۳ کیلو گرام سوپر سریال توزیع شد. از سوی سازمان IOM یک تخته سولر فامیلی، ۳ تخته پتو و برای هر دو خانواده یک باب خیمه، از سوی UNFPA-BDN یک تخته کمپل و یک تخته ترپال و از سوی مؤسسات حمایت از کودکان برای هر خانواده یک کیت آشپزخانه و یک بسته بهداشتی توزیع گردید.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کار په بدل کې ۱۰۰ تنه سیمه ییزو کارګرانو ته خوراکي او غیرخوراکي توکي ووېشل




د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۱ نېټه په جلریز ولسوالۍ کې هغو ۱۰۰ تنه سیمه ییزو کارګرانو ته خوراکي او غیرخوراکي توکي ووېشل، چې د تېرو سېلابونو له امله د ولسوالۍ د ویجاړ شوي عمومي سړک د ترمیم او جوړولو په برخه کې یې د ۱۰ ورځو لپاره کار ترسره کړی و.
په دې لړۍ کې هر کارګر ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵۰ کیلو بوره، ۱ کیلو تورچای، دوه جلده د یونیسف سازمان بروشرونه او د یونیسف ۲۸ پاکټه کلورین ووېشل شول.
د وېش پر مهال د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست رئیس، مولوي فیض الله جلالي وویل، موږ تل هڅه کوو چې په دې ډول پروژو کې د سیمې د اوسېدونکو د اقتصاد د پیاوړي کېدو لپاره د سیمې خلک په کار وګمارو او هڅه کوو چې په راتلونکې د دې ډول نورو پروژو ترسره کولو زمینه هم برابره کړو.

## د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۰۳ زیانمنو شویو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د DRC مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په چخانسور ولسوالۍ کې د وروستیو طبیعي پېښو له امله ۳۰۳ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۱ نېټه د نغدي پیسو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲۶۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره اوه سوه او اوه اتیا زره او اته سوه (۷۸۷،۸۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۱،۴۷۶ خانواده مستحق در ولسوالی‌های دره و حصه اول مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه JCSSO که تمویل کننده پروژه آن OCHA-AHF می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر، بتاریخ ۲۱ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۱۴۷۶ خانواده مستحق در ولسوالی‌های دره و حصه اول مساعدت نقدی توزیع کرد.
در این روند، پس از سروی و در حضور مسوولان برای ۷۳۸ خانواده در ولسوالی دره و ۷۳۸ خانواده دیگر در ولسوالی حصه اول، به هر یک مبلغ ۲۷۶۳ افغانی پول نقد توزیع شد.
قابل ذکر است که این روند دو روز قبلا در مربوطات بازارک مرکز آن ولایت تطبیق شده که از آن ۷۴۰ خانواده مستقید شدند.


## د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۵۷ زیانمنو کورنیو ته د غیری خوراکي توکو مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د RRAA مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په کوزکنړ او سرخرود ولسوالیو کې ۳۵۷ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۱ نېټه غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یو لوی روغتیایي کیټ چې پکې ۱۰ کلچې صابون، ۱ عدد صابون داني، ۶ عدده انډر ویر، ۱ عدد بیک، ۷ کلچې د کالیو وینځلو صابون،۱ عدد پلاستیکي ۲۰ لیتره بشکه، ۱ عدد ۲۰ پلاستیکي سطل، ۱ تاملوت، ۴ بنګله د ښځو ځانګړې بهداشتي توکي، ۴ کارتنه دوه متره مربع ټوکر، ۳ عدده د لویانو د غاښونو برسونه، ۴ عدده د ماشومانو د غاښونو برسونه، ۲ عدده د غاښونو کریم، ۲ دست پاکي، ۲ بوتله شامپو، ۱ عدد د ماشومانو کموډ او د څښاک اوبو د پاکوالي لپاره ۱ پاکټ کلورین ټابلیټ شتون درلود او یو کوچنی روغتیایي کیټ چې پکې ۵ کلچې ډېټول صابون، ۲ تختې کاټن ټوکر، ۳ عدده د لویانو لپاره د غاښونو برسونه، ۱ عدد د غاښونو کریم،۱ عدد د ښځو ځانګړې بهداشتي توکي، ۱ تخته دست پاک، ۲ بوتله شامپو، ۱ عدد سولر ګروپ، ۶ عدده انډر ویر او ۱ بیک شتون درلود ووېشل شول.

## د فراه ولایت په فراه رود ولسوالۍ کې بېلابېل چاودېدونکي توکي کشف او په خوندي توګه له منځه یوړل شول




د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د DRC ماین پاکۍ مؤسسې د تخنیکي ټیم د همغږۍ له مخې، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۱ نېټه د دې ولایت د فراه رود ولسوالۍ په تودنک سیمه کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوي یو شمېر چاودېدونکي توکي کشف او په خوندي توګه خنثی کړل شول.

د دې عملیاتو په پایله کې، یو فیر ۸۲ ملي مترۍ د هاوان مرمۍ، یو فیر د راکټ RPG-7 مرمۍ او یوه کړۍ AO2.5 خوشه یي ماین له منځه یوړل شو.

د یادونې ده، چې د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست محترم رئیس، له سیمه ییزو وګړو وغوښتل چې د هر ډول مشکوک او چاودېدونکي توکي د لیدلو په صورت کې دې له دوی سره اړیکه ونیسي تر څو یاد توکي پر وخت سره له منځه یوړل شي.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۲۷ زلزله ځپلو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې




د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مالي همکارۍ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۲ نېټه د دره نور ولسوالۍ د بېلا بېلو کلیو اړوند ۷۲۷ زلزله ځپلو کورنیو ته د ژمني توکو برابرولو لپاره نغدې مرستې ووېشلې.

د مرستو په دې ویش کې د مسولینو په شتون کې هرې مستحقې کورنۍ ته ۱۳,۱۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال نه میلیونه او پنځه سوه درې ویشت زره او اووه سوه (۹,۵۲۳,۷۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

مرسته اخیستونکو کورنیو د یادو مرستو له ترلاسه کولو وروسته خوښي څرګنده کړه او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او IOM څخه یې د هغوی اړتیاوو ته پر وخت د رسېدنې په پار قدرداني وکړه.

## د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۷ زیانمنو شویو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت د مرکز قلات، شاجوی، ارغنداب، میزانه، شهر صفا او خاک افغان ولسوالیو اړوند د اورلګېدنو له امله ۱۷ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۲ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۱ بوری ۵۰ کیلویي اوړه، ۱ بوری ۵۰ کیلویي غنم، ۵ کیلو بوره او نیم کیلو تور چای او همدارنګه له یاد شمېر کورنیو څخه یوې کورنۍ ته د یادې مرستې سربېره ۱ باب چینایی خېمه هم ووېشل شوه.

## برای ۲۰۷ خانواده زلزله‌زده در شهر ایبک مرکز ولایت سمنگان مساعدت نقدی و غیر نقدی توزیع شد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان با حمایت سازمان بین المللی مهاجرت(IOM)، برای ۲۰۷ خانواده زلزله‌زده در شهر ایبک مرکز آن ولایت که قبلاً سروی شده بودند، بتاریخ ۲۲ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق مساعدت‌های نقدی و غیرنقدی توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسئولین، به هر خانواده مبلغ ۸۵۰۰ افغانی کمک نقدی و برای ۲۷ خانواده نیز در کنار کمک نقدی، یک باب خیمه جهت سرپناه موقت توزیع شد که کمک نقدی آن در مجموع مبلغ ۱,۷۵۹,۵۰۰(یک میلیون‌و هفت‌صدو پنجا و نه هزارو پنجصد) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

مسئولین ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان از تلاش‌ها و همکاری‌های مؤسسات همکار در راستای رسیدگی به آسیب‌دیدگان حوادث طبیعی ابراز سپاس‌گزاری نموده و بر ادامه‌ی چنین همکاری‌ها برای کمک به آسیب‌دیدگان تأکید ورزیدند.

## د سمنگان ولایت په خُلم ولسوالۍ کې د وروستۍ زلزلې له امله ۱۲۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشل شوې

د سمنگان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د جمشید رامین شرکت په ملاتړ او د خُلم ولسوالۍ له کمېټې سره په همغږۍ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۲ نېټه د وروستۍ زلزلې له امله زیانمنو ته د رسېدنې لپاره په یاده ولسوالۍ کې ۱۲۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته یوه بوری ۴۰ کیلویي اوړه، یوه بورۍ ۱۵ کیلویي وریجې، یوه تخته کمپله او یوه بوشکه ۵ لیتره غوړي ووېشل شول.

د سمنگان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د طبیعي پېښو له امله زیانمنو ته د مرستې رسونې په برخه کې د همکارو موسسو او جمشید رامین شرکت له هڅو او همکاریو څخه مننه او قدرداني وکړه.

## د لغمان ولایت په مرکز کې یوه ناچاوده مرمۍ کشف او خنثی کړل شوه



د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د هلوټرسټ ماین پاکۍ نړیوالې موسسې د تخنیکي ټیم په همکارۍ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۲ نېټه د یاد ولایت مرکز مهترلام اړوند په پنج پای سیمه کې یوه BM1 ډوله ناچاوده مرمۍ کشف او تر واک لاندې په یوه چاودنه کې په خوندي توگه له منځه یووړل شوه.

د معلوماتو پر بنسټ دا مرمۍ له تېرو جگړو څخه پاتې شوې وه او د کارولو وړ نه وه، خو د سیمې د اوسېدونکو لپاره یې جدي گواښ رامنځته کړی و. د موسسې مسلکي ټیم یاده مرمۍ په خوندي توگه له منځه یووړه او د هر ډول احتمالي زیان رامنځته کېدو مخنیوی یې وکړ.

## د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست په دره نور ولسوالۍ کې ۱۰۰ زلزله ځپلو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې او د ماشومانو د ملاتړ نړیوالې موسسې ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړه لیک له مخې، د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د یادې موسسې په مالي او تخنیکي همکارۍ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۲ نېټه په دره نور ولسوالۍ کې د زلزلې له امله ۱۰۰ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د ماشومانو د لومړنیو اړتیاوو پوره کولو، خوراکي توکو او د زیانمنو کورنیو لپاره د جامو برابرولو په موخه هرې کورنۍ ته ۹,۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال نه سوه اتیا زره (۹۸۰,۰۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانگړې شوې وې.

همدارنگه، له مرستو برخه منو کورنیو د دې مرستو ترلاسه کولو په پار له همکارو بنسټونو څخه مننه وکړه او د دې ډول مرستو د دوام غوښتنه یې وکړه.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۲۲۸ خانواده زلزله‌زده در لسوالی شولگره مساعدت نقدی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با حمایت موسسه Welt Hunger Hilfe (WHH)، بتاریخ ۲۲ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۲۲۸ خانواده آسیب‌دیده در اثر زلزله اخیر در ولسوالی شولگره، مساعدت نقدی توزیع کرد.

در این روند، برای ۱۲۳ خانواده کتگوری (A)به هر یک مبلغ ۱۳,۴۱۵ افغانی و برای ۱۰۵ خانواده کتگوری (B)به هر یک مبلغ ۱۱,۱۸۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع مبلغ دو میلیون و هشت‌صد و بیست و سه‌هزار و نه‌صد و چهل و پنجم(۲,۸۲۳,۹۴۵) افغانی میان خانواده‌های مستحق توزیع شد. قابل یادآوری است که تقسیم‌بندی خانواده‌های متضرر به کتگوری‌های A و B بر اساس معیارهای مشخص از سوی مؤسسه WHH انجام شده است، که در آن خانواده‌های دارای سرپرست زن، خانواده‌های دارای افراد معلول و میزان تخریب منازل در نظر گرفته شده است.

## د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۲۳ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې او د جوزجان ولایت د محترم مقام د حکم پر بنسټ، د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست، د آقچه، خواجه دکوه ولسوالیو او د مرکز شبرغان د عرب خانه کلي اړوند ۲۳ کورنیو ته چې د اورلګېدنې او وچکالۍ له امله زیانمنې شوې وې، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۲ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د اورلګېدنې له امله ۳ زیانمنو کورنیو هرې یوې ته ۱۰۰ کیلو غنم، یو عدد د اوبو سطل، دوه تختې کمپلې او ۱۰ کیلو مایع ګاز او همدارنګه، د وچکالۍ له امله ۲۰ زیانمنو کورنیو هرې یوې ته یوه بورۍ ۵۰ کیلویي غنم د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست له امکاناتو څخه ووېشل شول.

## برای ۸۵ خانواده متضرر از زلزله اخیر در مرکز ولایت سمنگان مساعدت غیر غذایی توزیع شد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان با حمایت موسسه IMC بتاریخ ۲۲ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۸۵ خانواده متضرر ناشی از زلزله اخیر در مرکز ولایت مساعدت غیر غذایی توزیع کرد.

در این روند در حضور محترم الحاج مولوی احسان الله احسان، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث و مسوولان محلی، به هر خانواده دو تخته کمپل و یک بسته آب آشامیدنی توزیع شد.

# د بلخ ولایت په چهارکنت ولسوالۍ کې ۶۱ زلزله ځپلو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشل شوې




د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د IOM، SFL-WFP، UNFPA-BDN، UNICEF او د ماشومانو د ملاتړ سازمانونو او بنسټونو په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادي الاول ۲۲ نېټه د یاد ولایت په چهارکنت ولسوالۍ کې د وورستۍ زلزلې له امله ۶۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د SFL-WFP له لوري هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱ کیلو مالګه، ۲ کیلو بسکېټ، ۱۰ لیتره غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال نخود او شېدې خوره ماشومانو یا امیندواره مېرمنو لرونکو کورنیو ته ۳۰ پاکټه پلمپي او ۳ کیلو سوپر سریال؛ د IOM له لوري هرې کورنۍ ته یوه بسته سولري څراغونه، درې تختې کمپلې او د لومړۍ کټګورۍ ۱۰ کورنیو ته یو باب خیمه؛ د UNFPA-BDN موسسې لخوا هرې کورنۍ ته یوه تخته کمپله او یو تخته ترپال؛ د ماشومانو د ملاتړ د موسسې له لوري هرې کورنۍ ته د دیګ بخار، سطل، چای جوش او نورو اړینو لوښو لرونکی یوه بسته د پخلنځي کېټ او یوه روغتیایي بسته او د UNICEF له لوري هرې کورنۍ ته د ژمنۍ جامو یوه بسته ووېشل شوه.

## عامه پیغامونه :

22. څوک چې د یو انسان ژوند وژغوري داسې ده لکه د ټولو انسانانو ژوند چې یې ژغورلی وي (الایة)
23. څوک چې د خپل مسلمان ورور سره مرسته کوي الله ج به د هغه سره مرسته کوي (الحدیث)
24. د غم ځپلو لاسنیوی وکړئ چې الله ج یې د قیامت په ورځ عوضونه درکړي
25. مخکې له دې چې تاسو له ډېر ځاني او مالي زیان سره مخ شئ، په کم لګښت د خطرونو مخنیوی وکړئ.